# د ماشومانو د وکیل درلودلو حق

تاسو لپاره معلومات، چې عمرونه مو د ۱۵ او ۱۸ کلونو تر منځ دي، له مور او پلار پرته راغلي یاست او د پناه غوښتنه مو کړې ده



### وکيل څه شی دی؟

- وکيل يو قانون پوه دی او له تاسو سره مرسته کوي چې د پناه غوښتنې غوښتنليک مو په عادلانه توګه وڅېړل شي.
- که تاسو و نه غواړئ، ستاسو وکيل نه شي کولای هغه شيان نورو ته ووايي، چې تاسو يې ورسره په هکله خبرې کړې دي.

دا پريکه د کډوالو د چارو اداره (UDI) کوي، چې تاسو به په ناروې کې پاتې کېږئ او که نه.
که چيرې تاسو د کډوالو د چارو د ادارې (UDI) په پريکړه شکايت وکړئ، شکايت مو د کډوالو د شکايتونو د څېړلو اداره (UNE) ګوري. په پای کې همدا اداره پرېکړه کوي چې تاسو په ناروې کې پاتې کېدای شئ او که نه.

### تاسو ته وکيل څنګه ټاکل کېږي؟

- که تاسو پوهېږئ چې کوم وکيل غواړئ، خپل سرپرست، پوليسو او يا د کمپ کارکوونکو ته يې ووایاست.
- که تاسو نه پوهېږئ چې کوم وکيل غواړئ، د کډوالو د چارو اداره (UDI) به درته يو وکيل پيدا کړي.
- د وکيل لګښت (پيسې) تاسو نه ورکوئ.



## وکیل له تاسو سره څه مرسته کوي؟

**کله چې تاسو ځان له پولیسو سره راجستر کړی وي**

- وکیل له تاسو سره ستاسو د قضیې (کیس) او همدارنګه په دې هکله خبرې کوي چې څه به پېښېږي.

**د کډوالو د چارو په اداره (UDI) کې د پناه غوښتنې له مرکې (انټروي) وروسته**

- که چیرې تاسو کوم څه هیر کړي وي او یا مو په خبرو کې تیروتنه (اشتباه) کړې وي، نو ستاسو وکیل به په دې اړه د کډوالو د چارو ادارې (UDI) ته خبر ورکړي.

**کله چې د کډوالو د چارو ادارې (UDI) تاسو ته ځواب درکړی وي**

**که چیرې د کډوالو د چارو ادارې (UDI) پرېکړه کړې وي چې تاسو په ناروې کې نه شئ پاتې کېدلای**

- وکیل یې تاسو ته روښانه کوي چې د کډوالو د چارو اداره (UDI) ولې په دې نظر ده چې تاسو باید بیرته ولاړ شئ.

**که چیرې تاسو د کډوالو د چارو د ادارې (UDI) له پرېکړې سره موافق نه یاست**

- وکیل درسره د شکایت په لیکلو کې مرسته کوي او ستاسو د قضیې (کیس) په هکله د کډوالو د چارو ادارې (UDI) ته معلومات ورکوي.

**که چیرې د کډوالو د چارو ادارې (UDI) پرېکړه کړې وي چې تاسو په ناروې کې پاتې کېدلای شئ**

- وکیل معلومات درکوي چې ولې په ناروې کې پاتې کېدلای شې او وروسته به څه پېښېږي.

**کله چې د کډوالو د شکایتونو د څېړلو اداري (UNE) تاسو ته ځواب درکړی وي**

**که چیرې د کډوالو د شکایتونو د څېړلو اداري (UNE) پرېکړه کړې وي چې تاسو په ناروې کې نه شئ پاتې کېدلای**

- وکیل به تاسو ته  روښانه کوي چې د کډوالو د شکایتونو د څېړلو اداره (UDI) ولې په دې نظر ده چې تاسو باید بیرته ولاړ شئ.
- وکیل معلومات درکوي چې څنګه کولای شئ خپل هېواد ته د بیرته ستنېدلو لپاره مرسته ترلاسه کړئ.

**که چیرې د کډوالو د شکایتونو د څېړلو اداري (UNE) پرېکړه کړې وي چې تاسو په ناروې کې پاتې کېدلای شئ**

- وکیل معلومات درکوي چې ولې په ناروې کې پاتې کېدلای شې او وروسته به څه پیښېږي.



که چیرې نورې پوښتنې لرئ، لا زیات معلومات په لاندې انټرنټ پاڼو کې موندلای شئ:
www.NOAS.no
UDI.no

UDI Utlendingsdirektoratet Norwegian Directorate of Immigration | UTLENDINGSNEMNDA UNE | POLITIET POLITIETS UTLENDINGSENHET